دافغانستان اسلامی امارت
د ارشـــاد حج او اوقافو وزارت
دمساجدو دارشاد او انسجام ریاست
دارشاد او دعوت آمریت
دخطبو د تنظیم عمومی مدیریت

د جمعي ورځي دخطبي لاربنود مؤرخ: ۱۴۴۳/۵/۵هجری قمری مطابق۱۴۰۰/۹/۱۹هجری شمسی

# د ښځو حقوق د اسلام له نظره

الحمدلله الذي خلق الزوجين الذكر والأنثى من نطفة إذا تمنى وجعل بينهم مودة ورحمة احمده على نعمه التي لاتحصى، وأشهد أن لآإله إلاالله وحده لاشريک له، وأشهد أن محمداعبده ورسوله، صلى الله عليه وعلى آله وأصحابه أولى الفضل والنهى وسلم تسليماً كثيراً وبعد:

قال الله تعالى:{وَمِنْ آيَاتِهِ أَنْ خَلَقَ لَكُم مِّنْ أَنفُسِكُمْ أَزْوَاجًا لِّتَسْكُنُوا إِلَيْهَا وَجَعَلَ بَيْنَكُم مَّوَدَّةً وَرَحْمَةً إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَاتٍ لِّقَوْمٍ يَتَفَكَّرُونَ} الروم: (۲۱)

ترجمه: او دالله تعالی دقدرت د نښانونو څخه دا همده چې پیدا کړي یې دي ستاسو له نفسونو(جنس) ښځه ښځې ددې لپاره چې تاسو سکون ورسره واخلی او اچولی یې ده ستاسو په منځ کې مینه او مهرباني، بیشکه په دې کې خامخا علامې دي ( دقدرت دالله تعالی) دهغه قوم لپاره چې فکر کوي( په قدرتونو د الله تعالی کې).

د تیر تاریخ څخه را نیولی آن تر نن ورځې پورې داسې دین او قانون نه دی تیرشوی چې ښځې ته یې دومره حقوق ، عزت او درناوی ورکړی وي لکه داسلام مبارک دین چې ورته ورکړي دي.

اسلام د ژوند په هره برخه کې ښځو ته ځانګړی توجه کړی ده.

الله تعالی د قرآن کریم په ډیرو آیتونو کې د سړي سره یو ځای د ښځې نوم ذکر کړی دی.

دواړه یې دانسـاني کرامت او عملي اخلاقو مسـتحق ګرځولي دي. دهر یو لپاره یې داسـې دندې او حقوق مقررکړي دي چې دهغه د فطرت او طبیعت سره سمون خوري. دښځې د کرامت او درناوی لپاره دا کافي ده چې په قرآن کریم دهغې په نامه یو اوږد سورت نازل شوی دی چې سورت (النساء) ورته ویل کیږي.

د ښځو حقوق زیات دي؛ چې ځینې یې په لاندې توګه دي:

**۱-د نکاح پر وخت د انجلۍ رضایت حتمي دی.**

د ښځو دحقوقو څخه تر ټولو مهم او سرنوشت ساز حق، د خاوند انتخاب دی چې متأسفانه دا حق مسلم له ښځو څخه حق اخیستل شوی دی او ښځې د شخړو او مرکونې جنجالونو قرباني کیږي.

داسلام مبارک دین ښځو ته ددې حق ورکړی دی چې د خپل را تلونکي خاوند په اړه په خپله تصمیم ونیسي. هغه حق چې دجاهلیت په زمانه کې ورڅخه محرومه وې.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ(صلى الله عليه وسلم) قَالَ:(لَا تُنْكَحُ الْبِكْرُ حَتَّى تُسْتَأْذَنَ وَلَا الثَّيِّبُ حَتَّى تُسْتَأْمَرَ فَقِيلَ يَا رَسُولَ اللهِ كَيْفَ إِذْنُهَا قَالَ إِذَا سَكَتَتْ) صحيح البخاري-نسخة طوق النجاة (ص: ۵۳)

ترجمه: ابو هریره رضی الله عنه درسول الله صلی الله علیه وسلم څخه روایت کوي چې هغه فرمایلي دي: ترهغې پورې به بالغه پیغله په نکاح نه ورکول کیږي؛ ترڅو پورې چې ورڅخه اجازت نه وي اخستل شوی او

کونده ښـځه به ترهغي پورې په نکاح نه ورکول کیږی چې ترڅو پورې چې ورځخه دنکاح کولو اجازت نه وي ترلاسه شوی. چا وویل: د پیغلې ښځې اجازت علامه به څرنګه وي یارسول الله صلی الله علیه وسلم؟

پیغمبرعلیه السلام وفرمایل: دپیغلې د اجازت علامه دهغې سکوت دی.

امام نسفي رحمه الله په دې اړه لیکلي دي ( وَلَا تُجْبَرُ بِكْرٌ بَالِغَةٌ على النِّكَاحِ) تبیین الحقائق (۲/ ۱۱۸)

ترجمه: او باکره پیغله په نکاح کولو نشي مجبورولای.

همدا راز جلالت مآب امیر المؤمنین –حفظ الله ورعاه-له د ښـځو دحقوقو په ځانګړي فرمان کې په دې اړه داسې حکم کړی دی: ( د نکاح پر مهال د بالغو ښځو رضایت ضروري دی( خو چې نکاح له کفو( سیال) سره وي، دفتنې او فساد خطرهم په کې نه وي). هیڅوک ښـځې په جبر او اکراه سـره پر نکاح کولو نشـي مجبورولای.)

ددې څخه وروسته پیغله ښځه ددې حق لري چې مرکه قبوله کړي او یا یې رد کړي. دشریعت دحکم په اساس او دقانون له مخې هیڅوک حق نه لري چې ښځې دددې مسلم حق څخه محرومه کړي او پیغله انجلۍ هغه چاته په زوره په نکاح ورکړي چې انجلۍ ته قبول نه وي.

**۲-ښځې څوک په میراث نشي وړلای:**

داسـلام په مبارک دین کې که چیرې ښـځه کونډه شـوه دخپل سـرنوشـت په اړه باید په خپله تصـمیم ونیسـي او هیڅوک ددې حق نه لري چې کونډه پرته دهغې له اجازت په خپله نکاح کړی او یایې بل چاته په نکاح کړي.

ځکه کونډې ښځې دسړو په شان آزاد او اصیل انسانان دي؛ مال او متاع نه ده.

دجاهلیت په زمانه کې ښځو ته د مال او متاع په سترګه کتل کیدل، که چیرې څوک به مړشو او له هغه څخه به ښځه پاتې شوه، هغه ښځه به دهغه د متروکه مال په شان دمړي دخپلوانو له طرفه په میراث وړل کیدله.

د اسلام مبارک دین په ظهور سره د ښځو په میراث وړل حرام وګرځول شو. په دې اړه قرآن کریم فرمایي:{يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ لاَ يَحِلُّ لَكُمْ أَن تَرِثُواْ النِّسَاء كَرْهًا } النساء:(۱۹)

ترجمه: ای مؤمنانو! حلال نه دي تاسو ته چې په زوره سره ښځې په میراث یوسی.

عبدالله ابن عباس رضـی الله عنهما ددې آیت په شـان نزول کې فرمایلي دي: ( قَالَ كَانُوا إِذَا مَاتَ الرَّجُلُ كَانَ أَوْلِيَاؤُهُ أَحَقَّ بِامْرَأَتِهِ إِنْ شَاءَ بَعْضُهُمْ تَزَوَّجَهَا وَإِنْ شَاءُوا زَوَّجُوهَا وَإِنْ شَاءُوا لَمْ يُزَوِّجُوهَا فَهُمْ أَحَقُّ بِهَا مِنْ أَهْلِهَا فَنَزَلَتْ هَذِهِ الْآيَةُ فِي ذَلِكَ). ترصحیح البخاري-نسخة طوق النجاة (ص: ۹۲)

ترجمه: دجاهلیت په زمانه کله به چې سـړی مړشـو، د هغه دښـځې اختیار به دهغه دخپلوانو په لاس کې ؤ. که به یې خوښه شوه نکاح به یې ورسره وترله او یا به یې بل چا ته په نکاح ورکړله او که به یې خوښه شوه هیڅ به یې نه په نکاح کوله او همداسې به ناسته وه، بس د مړي خپلوان د مړشـخص د ښـځې په برخه کې داختیار څښتنان ؤ. تردې پورې چې الله تعالی په دې آیت سره مسلمانان دداسې کار څخه منع کړل.

کله چې داسلام دین ظهور وکړ دجاهلیت د زماني ټول ناوړه رسمونه او رواجونه یې له منځه یوړل او حق یې حقدار ته وسپاره.

دشریعت دحکومتونو سره سم دافغانستان اسلامي امارت هم د خاوند د انتخاب موضوع خپله کونډې ښځې ته محول کړه. دجلالت مآب امیرالمؤمنین –حفظه الله – دښځو دحقوقو په اړه ځاګړی فرمان داسې حکم کوي: (د میړه له وفات وروسته، چې شرعي عدت (څلور میاشتې او لس شپې او یا وضع دحمل) تیرشي، کونډه ښځه نه

لیور ځانته په زور نکاح کولای شـي او نه بل ځوک، کونده د نکاح کولو او د خپل را تلونکي سـرنوشـت په هکله د خپل اختیار څښتنه ده، ( خو چې د کفو( سیال) اصل او دفتني اوفساد مخنیوی په نظر کې نیول شوی وي).

بناءً که ځوک کونده ښځه په جبر او اکراه یا دهغې د رضایت پرته ځانته په نکاح کړي او یایې بل چاته پرته د هغې له اجازته په نکاح کړي، داسې شخص دشریعت اوقانون سرغړونکی ګڼل کیږي.

**۳-ښځه یو آزاده او اصیل انسان دی او په (بدو) ورکول یې جواز نه لري:**

دښــځو په بدو کې ورکول په افغانســتان له پخوا را پاتې رســم دی؛ چې تر اوســه پورې جاری دی او عادتاً دکورني تاوتریخوالي اویا ددوه قبیلو ترمنځ دشخړواو کشـمکشـونو د منځه وړلو لپاره ورڅخه کار اخیسـتل کیږي.

انجلۍ دقاتل او یا متجاوز شـــخص له کورنۍ څخه مقتول یا متضـــرر کورته په بدو کې ورکول کیږي؛ ترڅو دهغوی قناعت وربانديې حاصل شي او د بیا لپاره د جنګ جګړو او وژلو مخه ونیول شي.

د هغه ښځو ژوند چې په بدو کې ورکول کیږي خورا بد او سخت وي. داسې ښځې او لوڼه چې خپله هیڅ ګناه نه لري؛ خو دخپلوانو د جنایت په بدل کې مقابل لوری ته ورکول کیږي او یا هم دمصالحې قرباني کیږي.

اکثره اوقات داسې ښځې کوچنۍ هم وي او د ژوند له هیڅ هم خبرې نه وي؛ داسې جینکۍ که بالغه هم وي خو د خاوند په کور کې ورته د انسان په سترګه نه کتل کیږي، اکثره وخت ورته سپکې سپورې ویل کیږي او د یوې وینزې په سترګه ورته کتل کیږي، دخاوند کورنۍ تل دراندہ کارونه وربانديې ترسره کوي. هغه ښځې چې دقتل په موضـوع کې په بدو کې ورکړل شـوې وي د خاوند په کور کې ورته د قاتل په سـترګه کتل کیږي او د ژوند هره لحظه یې په کړاوونو کې تیریږي. کله ناکله داسې ښځې دډیرو سختو له کبله نورو ناوړه کارونو ته لاس اچوي لکه دکورڅخه تېښتېدل او داسې نور.

بې له شـکه چې داسـې د تاوتریخوالي څخه ډک او داسـلامي شـریعت څخه مخالف عملونه داسلام مبارک له نظره مردود عملونه دي او اسلام دداسې عملونو څخه بیزاره دی.

دښځو په بدو کې ورکولو قباحت ته د دوه دلیلونو په ترڅ کې اشاره کوو:

الف-الله تعالی فرمایلي دي: وَلاَ تَزِرُ وَازِرَةٌ وِزْرَ أُخْرَىٰ}الاسراء :(۱۵)

ترجمه:او نه باروي هیڅ بار وړونکی بارد( ګناهونو) بل چا.

بناءً په بدو کې ورکړل شوی انجلۍ څه ګناه لري چې د بل چا د جنایت قرباني کیږي؟

ب-په بدو کې دښځو د ورکولو په رسم کې معمولا جبر او اکراه هم موجوده وي او ښځه پرته دهغې د رضایت او خوښۍ څخه د بل چا د جنایت قرباني کیږي، چې داسې نکاح له اساسه فاسده ده.

بناء دا یو ناوړه او حرام کار دی. باید د خاوند د انتخاب حق ښـځې ته په کمال آزادۍ او اختیار سـره ورکړل شي.

په یو حدیث شریف کې راځي:عن أَبي هريرة - رضي الله عنه - ، عن النبيّ - صلى الله عليه وسلم - قَالَ :( قَالَ الله تَعَالَى : ثَلاَثَةٌ أنا خَصْمُهُمْ يَوْمَ القِيَامَةِ : رَجُلٌ أعْطَى بي ثُمَّ غَدَرَ ، وَرَجُلٌ بَاعَ حُرّاً فَأَكَلَ ثَمَنَهُ ، وَرَجُلٌ اسْتَأجَرَ أجيراً ، فَاسْتَوْفَى مِنْهُ ، وَلَمْ يُعْطِهِ أجْرَهُ) . رواه البخاري

ترجمه: رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي؛ چې الله تعالی فرمایلي دي: د قیامت په ورځ به زه د درې کسـانو دښـمن یم. یو هغه کس چې زما په نوم دښـمن ته آمان ورکړي او بیا په کې خیانت وکړي. بل هغه کس

چې آزاد انســان وپلوري او پيســې يې وخوري. او بل هغه کس چې څوک په مزدورۍ ونيســي کار ورڅخه واخلي او مزد يې ور نه کړي.

دا چې د ښځو په بدو کې ورکولو کې د خريد او فروخت تصـورپروت دی دی؛ ځکه ددې داحديث وعيد ورته شـامليږي. ځکه ښـځه دهغه مال په عوض کې ورکول کيږي چې د جنايت کار په ذمه لازميږي چې هغه ديت دی.

ددې لپاره چې ددې جاري ظلم د ابد لپاره مخه ونيول شــې او شــرعي حکمونه پياده شـــي، جلالت مآب اميرالمؤمنين -حفظه الله تعالی ورعاه- لازم وګڼل چې په دې اړه ځانګړی فرمان صـادر کړي. د ښـځو په بدو ورکولو په اړه داميرالمؤمنين حفظه الله ځانګړی فرمان داسـې صـراحت لري :(ښـځه مال نه، بلکې اصـيل او آزاد انسان دی، هيڅوک يې چاته دصلحې په بدل (بدو) کې نشي ورکولای).

### ۴-د ملکيت او ميراث حق :

د قرآن کريم په بې شميره آياتونو او دفقهاؤ په ويناؤ کې راغلي دي چې د ښځو مالکيت او مالي استقلال دسړو په څير دی او د دواړو ترمنځ کوم تفاوت نشـته. الله تعالی فرمايلي دي:{لِّلرِّجَالِ نَصِـيبٌ مِّمَّا اكْتَسَـبُواْ وَلِلنِّسَـاء نَصِيبٌ مِّمَّا اكْتَسَبْنَ }النساء: (۳۲)

ترجمه: شته دی سړو لپاره برخه په هغه څه کې چې دوی  کسب کړي دي او شته دی د ښځو لپاره برخه په هغه څه کې هغوی کسب کړي دي.

اسلام علاوه پر دې چې ښځو ته يې انساني حقوق ورکړي دي او ددوی حيثيت يې لوړ کړی دی، ددوی لپاره يې د ميراث په برخه کې هم ځانګړې مقررات او قوانين وضع کړي دي.

الله تعالی په قرآن کريم کې فرمايلي دي:{ لِّلرِّجَالِ نَصـيِبٌ مِّمَّا تَرَكَ الْوَالِدَانِ وَالأَقْرَبُونَ وَلِلنِّسَـاء نَصِـيبٌ مِّمَّا تَرَكَ الْوَالِدَانِ وَالأَقْرَبُونَ مِمَّا قَلَّ مِنْهُ أَوْ كَثُرَ نَصِيبًا مَّفْرُوضًا}النساء: (۷)

ترجمه: شته دی سړو لپاره برخه په هغه مال (متروکه) کې چې مور او پلار پريښـي دي او يا خپلوانو پريښي دي. او شته دی دښـځو لپاره برخه په هغه مال (متروکه) کې چې ددوی مور او پلار پريښـي دي او يا خپلوانو پريښي دي. لږ وي او که ډير، دا برخه ده ټاکل شوی.

په بل آيت کريمه کې راځي:{يُوصِيكُمُ اللَّهُ فِي أَوْلاَدِكُمْ لِلذَّكَرِ مِثْلُ حَظِّ الأُنثَيَيْنِ}النساء:(۱۱)

ترجمه: تاسو ته ستاسو د اولادونو په اړه الله تعالی وصيت کوي، شته دی د نارينه لپاره برخه په برابر ددو ښځو دبرخې اندازه.

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِـيَ اللَّهُ عَنْهمَا عَنِ النَّبِيِّ صــلى الله عليه وسـلم، قَالَ:(أَلْحِقُوا الْفَرَائضَ بِأَهْلِهَا، فَمَا بَقِيَ فَهُوَ لأَوْلَى رَجُلٍ ذَكَرٍ).صحيح البخاري
ترجمه: ابن عباس رضـي الله عنهما د رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه روايت کوي چې پيغمبرعليه والسلام فرمـايلي دي: دميراث معلومې حصـــې خپلو خـاونـدانو تـه ورکړئ او بـاقيمـانـده يې د مړي ترټولو نږدې نـارينـه خپلوان ته ورکړئ.

نن صـبا چې زمونږ په ټولنه کې ښـځې د ميراث له حق څخه محرومه دي، جلالت مآب امير المؤمنين –حفظه الله تعالی -دښـځو دښـځو دحقوقو د فرمان په يوه برخه کې داسـې راغلي دي: ( ښـځه د ( وفات شـوي) ميره، اولاد، پلار او نورو خپلوانو په مالونو کې په فرضـيت  او عصـبيت سـره د ميراث حق او ثابت سـهم لري، هيڅوک يې له خپل حق څخه نشي بې برخې کولای).

ښځې دافغانستان محروم قشر شرعا د مړه شوي میړه په متروکه مال کې، د پلار او نورو خپلوانو په مالونو کې خپل معین سهم لري او ښځې شرعا او قانونا کولای شي چې دخپل حق مطالبه وکړي او ورڅخه استفاده پورته کړي.

**۵- دعدالت اصل :**

الله تعالی مسلمان ته له یو څخه ترڅلورو ښځو پورې نکاح کول مباح کړی دي؛ مګر په دې شرط چې دښځو ترمنځ به عدالت کوي.

څوک چې له یوې څخه زیاتې ښځې ترڅلورو پورې ولري دهغوی ترمنځ د شپې په نوبت کې ، نفقه ، لباس او مسکن کې باید عدالت مارعت کړي.
دشپې دنوبت تیرولو، مسکن ، نفقه او لباس د ښځو هغه حقوق دي چې دانسان دتوان څخه پورته نه وي.

الله تالی فرمایلي دي:{وَإِنْ خِفْتُمْ أَلا تُقْسِطُوا فِي الْيَتَامَى فَانْكِحُوا مَا طَابَ لَكُمْ مِنَ النِّسَاءِ مَثْنَى وَثُلاثَ وَرُبَاعَ فَإِنْ خِفْتُمْ أَلا تَعْدِلُوا فَوَاحِدَةً أَوْ مَا مَلَكَتْ أَيْمَانُكُمْ ذَلِكَ أَدْنَى أَلا تَعُولُوا} النساء:(۳)

ترجمه: که چیرې تاسو ددې څخه ویره لری چې د یتیمانو ښځو په نکاح کولو سره به انصاف ونه کړی، پس په نکاح کړئ نورې هغه ښځې چې ستاسو خوښې وي دوه دوه، دری دری، څلور څلور، که چیرې ددې څخه ویریږی چې له یوې څخه د زیاتو ښځو په منځ کې به عدالت تامین نه کړی بیا یوه ښځه په نکاح کړئ او یا هغه وینزه په نکاح کړئ چې ستاسو په لاسونو کې دي، دا حکم دې ته نږدې ده چې تاسو به ظلم ونه کړی.

په یو بل آیت کې الله تعالی فرمایلي دي:{وَلَنْ تَسْتَطِيعُوا أَنْ تَعْدِلُوا بَيْنَ النِّسَاءِ وَلَوْ حَرَصْتُمْ فَلا تَمِيلُوا كُلَّ الْمَيْلِ فَتَذَرُوهَا كَالْمُعَلَّقَةِ وَإِنْ تُصْلِحُوا وَتَتَّقُوا فَإِنَّ اللَّهَ كَانَ غَفُوراً رَحِيماً} النساء:(۱۲۹)

ترجمه:او تاسو هیڅکله نشي کولای چې پوره عدالت تامین کړی د ښځو په منځ کې اګرکه ډیر حرص هم ولری، بیاهم مکمل یوې ښځې ته (اختیاري) میلان مه کوئ داسې چې بله ښځه معلقه وساتی چې نه یې په نکاح کوی او نه ورته طلاق ورکوی.

په یو حدیث شریف کې راځي: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ:( مَنْ كَانَ لَهُ امْرَأَتَانِ يَمِيلُ لِإِحْدَاهُمَا عَلَى الْأُخْرَى جَاءَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ أَحَدُ شِقَّيْهِ مَائِلٌ) سنن النسائي بشرح السيوطي وحاشية السندي (۷/ ۷٤)

ترجمه: ابوهریره رضی الله عنه څخه روایت دی؛ چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: دچا چې دوه ښځې وي او یوې ښځې ته د بلې په نسبت (اختیاري) میلان کوي د قیامت په ورځ به راشي او یو بازو به یې کوږ وي.

پاته دې نه وي په نصوصو کې چې د کوم میلان څخه ممانعت راغلی دی، دهغې څخه اختیاري میلان مراددی؛ ځکه په غیر اختیاري میلان کې مواخذه نشته.

د حنفي مذهب ځیني علماء په دې نظر دي چې د ښځو ترمنځ عدالت مراعتول واجب دی.

علامه کاساني رحمه الله فرمایي: ددغه مسائلو له جملې څخه یو هم د ښځو ترمنځ د عدالت د وجوب موضوع ده. خلاصه داچې که څوک له یوې څخه اضافه ښځې ولري پر هغه واجب دي چې دهغوی ترمنځ دشپې په نوبت کې، نفقه او لباس کې عدالت مراعت کړي. تر دې پورې چې که دچا دوه آزاده ښځې وي او یا هم دوه وینزې ولري پرده واجب دي چې ددوی ترمنځ دشپې په نوبت کې ، نفقه کې ، مسکن کې ، خوراک او څښاک کې عدالت مراعت کړي. بدائع الصنائع (۲/ ۳۳۲)

همدا رنګه د ښځو دحقوقو په اړه دجلالت مآب امیر المؤمنین ځانګړی فرمان داسې حکم کوي: (کوم څوک چې متعدد ودونه ولري، مکلف دی چې ټولو ښځو ته د شرعي حکم سره سم شرعي حقوق ورکړي او ترمنځ یې عدل وکړي).

## ۶ـ د مهر حق:

دښځو د حقوقو څخه یو هم دمهر حق دی. مهر د پیغلې او کونډې دواړو لپاره واجب دی.

ښځې لکه دنورو حقوقو په څیر دمهر په اړه هم دتصمیم خاونده ده؛ چې څومره مهر ټاکي البته چې اندازه به یې د لس شرعي درهمو څخه به کم نه وي.

د مهر کلمه عیناً په قرآن کریم کی نه دی ذکر شوی او دمهر کلمې پرځای ( صداق ) -د صاد په فتحه یا کسره سره -استعمال شوی دی او صداق هغه مال ته ویل کیږي چې نارینه یې د دنکاح د عقد پرمهال ښځې ته ورکوي .د سورت نساء کې راغلي دي : ( وآتوا النساء صدقاتهن نحلة) النساء:۴

ترجمه: او ورکړئ ښځو ته د هغوی مهرونه د ډالی په توګه.

هغه مهم ټکی چې د دغه مبارک آیت نه استنباطیږي:

۱-مهر (صداق) د ښځې په وړاندې د نارینه د ریښتیني څرګدونه کوي. ځکه صداق د صدق له مادی نه اخستل شوی دی.

۲-د (هن) ضمیر په ټرلو سره دا جوتوي چې مهر خپله په ښځه پوری تړاولري ، نه پلار، مور او ورور او مهر د پلار لپاره د لور د لویولو په مقابل کې مزدوري نه ګڼل کیږي

۳- د (نحلة) کلمه چې په آیت کې ذکر شوی ده ، د انکته روښانه کوي چې مهر پرته له ډالۍ او عطیې څخه بل مفهوم نلري او په دې سره هغه ګومان ردوي چې مهر د انجلۍ قیمت دی.

د کونډې د مهر په اړه د عالیقدر امیرالمؤمنین فرمان داسې صراحت کوي:( له نوي خاوند څخه د مهر اخیستل د کونډې شرعي حق دی).